مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۵/۱۷

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژرونال
یا
د افغانستان سیاسي - تأریخي گزیتر

دریم ټوک
یوسلو اوومه برخه
هرات

او
او د افغانستان شمال لویدیځې برخې
تصحیحات

ډاکټر لودویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1975
لودویک آدمک

هریرود: ۲۰ – ۳۴ تر ۴۰ – ۳۵، ۵ – ۶۱ تر ۳۰ – ۶۶ پوري: دا یو سیند دی چې عمدتاً له دوه وو اساسي ځانگو جوړ سوی دی: سرجنگل او لال (لعل – ژ) چې د دایزنگي په سیمې کې راپورته کېږي. (د دغو سیندونو د لا نورې شرحې لپاره و گورئ: د کابل ټوک)

د سیندونو له یو ځای کېدنې وروسته، له دولت یار ۹ مایله کښته، سیند لویدیځ ته د هرات لږ سویل لور ته بهیږي، چې ۲۱۰ مایله واټن وهي. ددې ښار سویل ته د دوه وو مایلو په تاویدلو سره گومان دا دی چې سیند شمال لویدیځ بهیر نیسي او په ۲۸۰ مایل کې د کهسان سویل کې کوږوالی جوړوي، له دې ځایه د شمال لور ته بهېږي او په ۳۵۰ مایل کې له ذوالفقاره تیریږي. سیند دلته د روس پر خاوره ورننوځي، د سیند اساسي بهیر خپل تگلوري ته د شمال پر لور دوام ورکوي او له پُلِ خاتون، سرخش او قریبوند څخه تیریږي. له سرخس څخه، چې له ذوالفقار څخه ۷۶ مایله کښته دی؛ سیند د تجند په نامهٔ یادېږي. [تورکان هري رود یوازې د تجند په نامهٔ پېژني. د افغانستان د نورو سیندونو په شان دا سیند هم په خپله خپل نوم نهٔ بدلوي خو خلک ئې په بیلا بیلو ځایونو کې په بیلابیلو نومونو یادوي او یا ئې نوموي. (میتلند) دا سیند په پای کې د قره قرم په شگلنو دښتو کې ډوبیږي او د تجند په نامهٔ رغیانه جوړوي. (میتلند، پیکاک، ای. بي. سي.)

هاروت رود: وگورئ: ادرسکند: ۳۵ – ۳۱، ۱۸ – ۶۱

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حسن آباد: ۱۱ ـ ۳۴، ۲ ـ ۶۲ (ن): د هرات په ولسوالۍ کې د (دۀ نو) د سویل په ۴ مایلۍ کې یو کلی دی او ویل سوي چې ۲۰۰ کورونه په دې کلي کې ودان دي. ددې کلي د لویدیځ ورهاخوا یوه ستره له ختو جوړه کلا ده. (ای. بي. سي.)

* **حسن کوله:** ۵۷ ـ ۳۳، ۵۸ ـ ۶۱ (ن): له هراته تر شیندند پورې سړک ته نیږدې یو کلی دی.

حوضِ حاجي خان: ۲۰ ـ ۳۴، ۸ ـ ۶۲: دا له خبنتو جوړ د باران د اوبو ډنډ دی. دا ډنډ د هرات د لویدیځ په ۵ مایلۍ کې واقع دی. (ای. بي. سي. ۱۸۸۶ز)

حوضِ کاود: ۲۱ ـ ۳۵ ، ۲۵ ـ ۶۴: لوړوالی: ۱۱۴۷۳ فیټه. دا د بندِ تورکستان پر سر یو کوتل دی چې د میمنې په ولسوالۍ کې له چمنِ بید څخه د باغران تر غاښې پورې لاره ورڅخه تیریږي او له چمنِ بید څخه ۲۲ مایله لیرې واقع دی.

حوضِ میر داؤود: وګورئ: میر داؤود: ۴ ـ ۳۴، ۱۳- ۶۲

حصارک: ـ ۳۴، ـ ۶۴: دا د شهرک په ولسوالۍ کې د تایمنیو د لسو کورونو د استوګنې یوه کوچنۍ سیمه ده. (دابس، ۱۹۰۴)

* **حصار غلامان:** ۲۷ ـ ۳۴، ۲۴ ـ ۶۲ (ن) د هرات په شمال ختیځ کې د یوۀ غرۀ نوم دی.

* **حوض:** وګورئ: حوض

هزاره: وګورئ: د قلعۀ نو هزاره ګان

هزاره میشي: وګورئ: خارستان: ۵۵ ـ ۳۴، ۱۷ ـ ۶۳

حضرتِ بابا: ۴۰ ـ ۳۴، ۲۵ ـ ۶۲ (ن): لوړوالی: ۵۸۲۰ فیټه. دا یو ډیر لوی قبر دی چې ګرد چاپیره ئې د پخو خبنتو دیوال جګ سوی خو په خبنتو کې ئې سمنټ نـۀ دي کارول سوي؛ دا له خبنتو جوړه یوه کوچنۍ ودانۍ ده چې تر ډیره کنډواله سوې او درې یا څلور کوټې ئې ګبندۍ لري چې د مسافر لپاره پناه ځای ورکوي او د بابا د کوتل په شمال کې واقع ده.

د قبر تر څنګ یوه کوچنۍ ونه ده، او د ونې بیخ کې یوه ډبرینه لوحه ده. دلته داسې باور موجود دی چې دا ډبره له جنت څخه رالویدلې ده او دا ځای ډیر مقدس ګڼل سوی دی، خو له دې سره سره هیڅ څوک نـۀ پوهیږي چې دلته څوک ښخ سوی دی. د انګیرنې له مخې دا کوم وزبیک روحاني شخص وي. (میتلند) په همدغـۀ نامـۀ کلی اوس په دې سیمه کې په ۴۴ ـ ۳۴، ۲۰ ـ ۶۲ (ن) کې واقع دی.

هرات

: ۲۰ ـ ۳۴، ۱۲ ـ ۶۲ (ن): *هرات د افغانستان شمال لویدیځ ولایت دی. دا ولایت ۴۱۷۱۸ کیلومتر مربع مساحت لري او د افغانستان شپږم لوی ولایت دی. ددې ولایت مرکز د هرات ښار دی. د هرات ولایت په ۱۹۷۳ز کال کې په دغو اداري واحدونو ویشل سوی وو: ادرسکن: څلورمه درجه ولسوالي؛ چشتِ شریف، علاقه داري؛ انجیل: څلورمه درجه ولسوالي؛ غوریان، څلورمه درجه ولسوالي؛ ګلران دویمه درجه ولسوالي؛ ګذره (ګلزاره) دریمه درجه ولسوالي؛ کرخ څلورمه درجه ولسوالي؛ کهسان (کوهستان) څلورمه درجه ولسوالي؛ کشک دویمه درجه ولسوالي؛ اوبې دریمه درجه ولسوالي؛ پښتو زرغون دویمه درجه ولسوالي او زنده جان څلورمه درجه ولسوالي.*

د ۱۹۶۰ لسیزې تر لومړیو پورې د هرات په ولایت کې د بادغیس او غور ولایات (حکومتي کلان) ټول د هرات تر اداري ویش لاندې شمیرل کیدل. دا ولایت په ۱۴ ولسوالیو (حکومت محلي) ویشل سوی وو په لاندې ډول:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مرغاب	گلران	کشک	قادس
جوند	شیندند	زنده جان	کهسان
ادرسکن	انجیل	پښتون زرغون	اوبي
گذره	کرخ		

او دري علاقه داري:

غورماچ	کـشکـ کهنه	چشتِ شریف

ددي ولایت اقتصاد عمدتاً پر کښت او کرهڼي ولاړ دی. تر ټولو عمده کرنیز محصولات ئـي مالوچ، وریجي او غنم دي. عمده صنتعي تولیدات ئـي سمنټ، خوراکي غوړي او منسوجات دي. د افغان د احصائـیو له مخي د هرات ولایت له ۷۰۰۰۰۰ پورته استوګن وګړي لري. د کرنې او د اوبو لګولو د وزارت د احصائـیي د ریاست معلومات چي په ۱۹۶۹ کي خپارۀ سوي دي موږ ته دغه شپږ جدولونه په لاس راکوي:

په کرهنه کي د بوختو وګړو او تر کښت لاندي د ځمکو اټکلي احصائـیه د ولسوالیو او علاقه داریو په ترتیب											
هرات		کلي	په کرهنه بوخت خلک	ځمکوال	تر کښت لاندي ځمکه په جریب			تر کښت لاندي ځمکه په هکتار			
					خړوبه	للمه	ټولټال	خړوبه	للمه	ټولټال	
د هرات ولسوالی		۶	۳۳۷۶۰								
۱	انجیل	۱۹۰	۱۱۸۱۲۰	۱۹۸۵۰	۹۸۹۰۰	—	۹۸۹۰۰	۱۹۷۸۰	—	۱۹۷۸۰	
۲	اوبي	۶۳	۲۲۰۷۰	۴۲۴۰	۱۰۶۹۴۰	۴۰۰	۱۰۷۳۴۰	۲۱۳۸۸	۸۰	۲۱۴۶۸	
۳	ادرسکن	۵۶	۲۲۲۱۵۰	۵۷۵۰	۱۴۸۸۰	۵۳۰	۱۵۴۱۰	۲۹۷۶	۱۰۶	۳۰۸۲	
۴	پښتون زرغون	۱۳۷	۳۹۹۷۰	۷۴۵۰	۲۴۳۱۶۰	۳۳۰۰	۲۴۶۴۶۰	۴۸۶۳۲	۶۶۰	۴۹۲۹۲	
۵	زنده جان	۳۸	۱۸۱۹۰	۳۴۹۰	۴۴۲۰۰	—	۴۴۲۰۰	۸۸۴۰	—	۸۸۴۰	
۶	غوریان	۵۹	۲۵۸۲۰	۶۱۹۰	۱۰۸۱۲۰	—	۱۰۸۱۲۰	۲۱۶۲۴	—	۲۱۶۲۴	
۷	کرخ	۶۴	۲۱۵۸۰	۴۲۳۰	۵۰۳۶۰	۱۳۲۱۳۰	۱۸۲۴۹۰	۱۰۰۷۲	۲۶۴۲۶	۳۶۴۹۸	
۸	گذره گلزاره	۱۱۱	۷۲۴۵۰	۲۲۷۰۰	۶۵۰۱۰	—	۶۵۰۱۰	۱۳۰۰۲	—	۱۳۰۰۲	
۹	کشک	۱۱۴	۳۱۸۹۰	۹۶۴۰	۳۶۳۱۰	۷۴۲۳۴۰	۷۷۸۶۵۰	۷۲۶۲	۱۴۸۴۶۸	۱۵۵۷۳۰	
۱۰	کوهستان	۲۵	۱۵۶۲۰	۲۳۳۰	۴۲۰۵۰	۳۴۰۰	۴۵۴۴۵۰	۸۴۱۰	۶۸۰	۹۰۹۰	
۱۱	گلران	۱۳۰	۵۷۱۴۰	۳۰۳۰	۳۱۹۰	۸۰۲۸۲۰	۸۰۶۰۱۰	۶۳۸	۱۶۰۵۶۴	۱۶۱۲۰۲	
۱۲	چشت شریف	۲۶	۶۲۴۰	۱۲۵۰	۵۳۵۰	۹۰	۵۴۴۰	۱۰۷۰	۱۸	۱۰۸۸	
ټولټال		۱۰۱۹	۶۸۵۰۰۰	۹۰۱۵۰	۸۱۸۴۷۰	۱۶۸۵۰۱۰	۲۵۰۳۴۸۰	۱۶۳۶۹۴	۳۳۷۰۰۲	۵۰۰۶۹۶	

د بودي او چرګانو اټکلیز احصائـیه												
شمیر	ولسوالی	پسونه	قره قل	وزي	کورني څاروي	ګاو مینې	اوښان	آسونه	خرۀ	کچري	چرګان
هرات		–	—	—	۱۶۰	–	—	۲۰۰	۱۳۰	–	۲۵۰۰
۱	انجیل	۱۲۸۸۰	—	۲۶۷۰	۱۷۸۰۰	—	–	۶۶۰	۱۰۸۰۰	—	۲۰۲۳۰
۲	اوبي	۳۶۷۴۰	—	۶۹۲۰	۱۳۷۸۰	—	۶۲۰	۱۵۴۰	۴۰۵۰	—	۷۸۸۰
۳	ادرسکن	۶۳۶۳۰	—	۵۷۹۴۰	۶۱۲۰	—	۳۰۵۰	۴۶۰	۷۴۰	—	۴۱۸۰
۴	پښتون زرغون	۸۸۳۵۰	۹۰۰۰	۲۳۵۰	۴۷۷۹۰	—	۶۰	۲۴۵۰	۹۳۱۰	—	۳۸۷۷۰
۵	زنده جان	۱۰۹۲۰	—	۹۳۶۰	۶۷۴۰	—	۴۱۰	۸۳۰	۲۲۲۰	—	۵۱۳۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۶	غوریان	۴۲۲۱۲۰	—	۲۲۰۲۰	۷۴۰۰	—	۶۴۰۰	۴۸۰	۳۳۳۰	—	۶۶۶۰
۷	کرخ	۷۰۳۲۰	—	۷۲۵۸۰	۷۹۷۰	—	۲۱۱۰	۶۷۰	۲۸۶۰	—	۸۱۴۰
۸	گذره گلزاره	۸۲۶۹۰	—	۲۱۵۵۰	۴۲۸۴۰	—	۲۰۵۰	۲۵۷۰	۸۲۲۰	—	۱۶۷۵۶ ۰
۹	کشک	۶۱۵۹۰	۲۰۰۰	۲۴۵۸۰	۲۱۹۰۰	—	۳۵۹۰	۲۹۷۰	۵۲۶۰	—	۲۲۳۷۰
۱۰	کوهستان	۲۴۸۸۰	۳۶۰	۱۵۱۸۰	۳۰۱۰	—	۱۰۸۰	۷۱۰	۱۳۲۰	—	۴۹۱۰
۱۱	گلران	۱۴۷۴۴۰	—	۲۷۸۵۰	۲۷۲۱۰	—	۲۳۲۰	۴۴۳۰	۱۰۶۵۰	—	۳۰۰۰۰
۱۲	چشت شریف	۳۸۸۰	—	۵۳۶۰	۴۸۰۰	—	۷۰	۲۲۰	۷۶۰	—	۲۸۵۰
	ټولټال	۱۰۲۵۴۴۰	۱۱۳۶۰	۲۶۸۳۶۰	۲۰۷۵۲۰	-	۱۶۷۶۰	۱۸۱۹۰	۵۹۶۵۰	-	۳۲۱۱۸۰
د کوچه بوده په پورتني شمیر کي نـۀ ورګډه سوي. د ټول ولایت لپاره شمیري په لاندي ډول دي:											
ټول ولایت ټولټال		۳۹۴۵۰۰۰	۱۳۰۰۰۰	۷۲۰۰۰	۲۰۹۰۰۰	-	۱۳۰۰۰۰	۳۵۰۰۰	۹۲۰۰۰	-	۳۳۰۰۰۰

خروبي ځمکي او د خروبیدو سرچیني											
	هرات	ساحه په جریب					د سرچینو شمیر				
شمیر	ولسوالی	کانالونه	چیني	کاریز	ځاه ګاني	ټولټال	کانالونه	چیني	کاریز	ځاه ګاني	ژرندي
۱	انجیل	۹۸۰۵۰	۴۰۰	۱۰۰	۳۵۰	۹۸۹۰۰	۵۳	۸	۳	۲۸	۲۴۰
۲	اوبي	۱۰۶۷۹۰	۵۰	۱۰۰	—	۱۰۶۹۴۰	۴۸	۳	۵	-	۸۰
۳	ادرسکن	۱۲۸۸۰	۵۰۰	۱۲۰۰	۳۰۰	۱۴۸۸۰	۱۱	۲۳	۲۲	۲۷	۶۴
۴	پښتون زرغون	۲۴۱۹۸۰	۱۸۰	۷۰۰	۳۰۰	۲۴۳۱۶۰	۳۵	۹	۱۴	۲۵	۲۰۹
۵	زنده جان	۴۴۲۰۰	—	-	-	۴۴۲۰۰	۱۶	۲	-	-	۲۴
۶	غوریان	۱۰۶۷۷۰	۱۰۰	۵۰۰	۷۵۰	۱۰۸۱۲۰	۲۶	۳	۱۱	۵۳	۱۲۵
۷	کرخ	۴۸۲۹۰	۲۰	۹۵۰	۱۱۰۰	۵۰۳۶۰	۱۵	۲	۱۲	۷۰	۱۱۰
۸	گذره گلزاره	۶۱۳۴۰	۹۳۰	۲۲۰۰	۵۴۰	۶۵۰۱۰	۱۹	۲۳	۴۰	۳۹	۷۷۶
۹	کشک	۳۴۵۲۰	۲۰	۸۰۰	۹۷۰	۳۶۳۱۰	۳۰	۳	۱۵	۵۶	۹۲
۱۰	کوهستان	۴۰۰۰۰	۵۴۰	۶۱۰	۹۰۰	۴۲۰۵۰	۳۵	۲۹	۳۰	۵۸	۱۵۰
۱۱	گلران	۱۸۲۰	۱۰۰	۱۷۰	۱۱۰۰	۳۱۹۰	۱۰	۵	۴	۶۷	۷
۱۲	چشت شریف	۲۶۱۰	۱۲۹۰	۹۱۰	۵۴۰	۵۳۵۰	۴	۴۳	۷۲	۲۷	۱۲۵
	ټولټال	۷۹۹۲۵۰	۴۱۳۰	۸۲۴۰	۶۸۵۰	۸۱۸۴۷۰	۳۰۲	۱۵۳	۲۲۸	۴۵۰	۱۳۰۲

زراعتي تولیدات په کابلي سیر								
	هرات	ساحه په جریب			نور زراعتي محصولات			
شمیر	ولسوالی	خروبه	للمه	ټولټال	سبزیجات	صنعتي محصولات	نور مؤقت محصولات	میوه جات
۱	انجیل	۳۵۷۰۷۲۰	-	۳۵۷۰۷۲۰	-	۲۱۹۷۹۰	۹۲۴۰۰۰	۸۸۷۰۴۰
۲	اوبي	۳۸۱۵۵۲۰	۶۲۴۰	۳۸۲۱۷۶۰	۱۷۳۵۰۷۰	۶۰۶۶۰	۳۹۸۲۰۰	۹۲۷۵۲۰
۳	ادرسکن	۶۹۵۵۲۰	۲۵۴۴۰	۷۲۰۹۶۰	۲۱۹۴۰۰	-	۲۶۴۰۰	۲۸۱۶۰
۴	پښتون زرغون	۹۰۸۹۷۶۰	۸۴۸۰	۹۰۹۸۲۴۰	۸۳۱۰۴۰	۳۲۱۵۴۰	۱۴۱۰۲۰۰	۳۳۹۳۲۸۰
۵	زنده جان	۱۹۵۹۸۴۰	-	۱۹۵۹۸۴۰	—	۱۰۴۴۰	۱۶۹۴۰۰	۲۰۲۴۰۰
۶	غوریان	۴۶۹۰۵۶۰	-	۴۶۹۰۵۶۰	۵۳۷۶۸۰	-	۴۰۴۸۰۰	۴۸۵۷۶۰
۷	کرخ	۲۱۸۱۶۰۰	۱۸۹۷۷۶۰	۴۰۷۹۳۶۰	۱۶۵۹۸۰	۲۵۴۳۰	۲۷۹۴۰۰	۲۴۸۰۶۰
۸	گذره گلزاره	۲۹۱۶۰۰۰	—	۲۹۱۶۰۰۰	۲۲۰۰۲۰	۲۷۷۲۰	۲۱۹۳۴۰۰	۳۰۲۷۲۰
۹	کشک	۱۵۶۲۸۸۰	۱۰۹۲۰۰۰۰	۱۲۴۸۲۸۸۰	۳۰۴۹۴۰	—	۶۳۸۰۰	۶۷۹۳۶۰
۱۰	کوهستان	۱۸۶۰۴۸۰	۵۴۴۰۰	۱۹۱۴۸۸۰	۱۳۷۰۳۰	—	۱۵۶۲۰۰	۱۱۲۶۴۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۱	ګلران	۱۳۷۲۸۰	۵۳۸۸۰	۶۷۶۱۶۰	۱۹۸۷۹۰	—	۶۶۰۰	۶۸۴۶۴۰
۱۲	چشت شریف	۲۴۱۴۴۰	۱۴۴۰	۲۴۲۸۸۰	۲۷۰۲۰	—	_	۱۰۵۶۰
ټولټال		۳۲۷۲۱۶۰۰	۱۳۴۸۰۰۰۰	۴۵۳۴۶۲۴۰	۴۳۷۶۹۷۰	۶۶۵۵۸۰	۶۰۳۲۴۰۰	۷۹۶۲۲۴۰

د کښت وړ ځمکو ټولټال په کابلي جریب						
هرات						
شمیر	ولسوالۍ	ناکرل سوې ځمکه*	تر کښت لاندې ځمکه	ځنګلونه	پوونډې	ټولټال
۱	انجیل	۳۱۶۵۰	۹۸۹۰۰	۴۰۰۰۰	۱۹۳۲۰	۱۵۸۲۲۰
۲	اوبې	۳۴۵۴۰	۱۰۷۳۴۰	۸۲۰۰۰	۹۵۱۱۰	۲۸۴۴۵۰
۳	ادرسکن	۵۲۹۰	۱۵۴۱۰	۷۳۰۰	۹۵۴۰۰	۱۱۸۱۱۰
۴	پښتون زرغون	۸۰۵۵۰	۲۴۶۴۶۰	—	۱۴۶۰۲۰	۳۹۲۴۸۰
۵	زنده جان	۱۴۲۴۰	۴۴۲۰۰	—	۳۸۴۳۰	۸۲۶۳۰
۶	غوریان	۳۴۶۹۰	۱۰۸۱۲۰	_	۳۱۶۵۸۰	۴۲۴۷۰۰
۷	کرخ	۱۲۱۲۵۰	۱۸۲۴۹۰	۲۳۰۰	۵۲۸۳۰	۲۳۷۶۲۰
۸	ګذره ګلزاره	۲۰۶۷۰	۶۵۰۱۰	۳۰۰۰۰	۱۲۴۰۳۰	۲۱۹۰۴۰
۹	کشک	۶۱۲۰	۷۷۸۶۵۰	۳۵۰۰	۱۴۸۶۰	۷۹۷۰۱۰
۱۰	کوهستان	۱۶۱۷۰	۴۵۴۵۰	—	۱۸۸۴۰	۶۴۲۹۰
۱۱	ګلران	۶۳۹۲۶۰	۸۰۶۰۱۰	۷۱۰۰	۱۲۸۱۶۰	۹۴۱۲۷۰
۱۲	چشت شریف	۱۷۷۰	۵۴۴۰	۳۶۰۰۰	۱۵۸۲۰	۵۷۲۶۰
ټولټال		۱۰۰۶۲۰۰	۲۵۰۳۴۸۰	۲۰۸۲۰۰	۱۰۶۵۴۰۰	۳۷۷۰۸۰
*	له ناکرل سوې ځمکې څخه موخه هغه ځمکې دي چې یو کال کرل کیږي او بل کال نـۀ کرل کیږي - ژ					

د کښت وړ ځمکو ټولټال د کرنیز حاصل پر بنسټ									
هرات		غلات							
شمیر	ولسوالۍ	خړوبه	للمه	ټولټال	سبزیجات	صناعتي محصولات	نور محصولات	میوه جات	د کښت وړ ځمکو ټولټال
۱	انجیل	۷۴۳۹۰	—	۷۴۳۹۰	_	۶۷۴۰	۴۲۰۰	۵۰۴۰	۹۰۳۷۰
۲	اوبې	۷۹۴۹۰	۳۹۰	۷۹۸۸۰	۸۹۹۰	۱۸۶۰	۱۸۱۰	۵۲۷۰	۹۷۸۱۰
۳	ادرسکن	۱۴۴۹۰	۵۳۰	۱۵۰۲۰	۱۱۳۰	—	۱۲۰	۱۶۰	۱۶۴۳۰
۴	پښتون زرغون	۱۸۹۳۷۰	۳۳۰۰	۱۹۲۶۷۰	۴۲۸۰	۹۸۶۰	۶۴۱۰	۱۹۲۸۰	۲۳۲۵۰۰
۵	زنده جان	۴۰۸۳۰	_	۴۰۸۳۰	_	۳۲۰	۷۷۰	۱۱۵۰	۴۳۰۷۰
۶	غوریان	۹۷۷۲۰	_	۹۷۷۲۰	۲۷۶۰	_	۱۸۴۰	۲۷۶۰	۱۰۵۰۸۰
۷	کرخ	۴۵۴۵۰	۱۱۸۶۱۰	۱۶۴۰۶۰	۸۶۰	۷۸۰	۱۲۷۰	۱۴۱۰	۱۶۸۳۸۰
۸	ګذره ګلزاره	۶۰۷۵۰	_	۶۰۷۵۰	۱۱۴۰	۸۵۰	۹۹۷۰	۱۷۲۰	۷۴۴۳۰
۹	کشک	۳۲۵۶۰	۶۸۲۵۰۰	۷۱۵۰۶۰	۱۵۸۰	—	۲۹۰	۳۸۶۰	۷۲۰۷۹۰
۱۰	کوهستان	۳۸۷۶۰	۳۴۰۰	۴۲۱۶۰	۷۱۰	—	۷۱۰	۶۴۰	۴۴۲۲۰
۱۱	ګلران	۲۸۶۰	۳۳۶۸۰	۳۶۵۴۰	۱۰۳۰	—	۳۰	۳۸۹۰	۴۱۴۹۰
۱۲	چشت شریف	۵۰۳۰	۹۰	۵۱۲۰	۱۴۰	—	–	۶۰	۵۳۲۰
ټولټال		۶۸۱۷۰۰	۸۴۲۵۰۰	۱۵۲۴۲۰۰	۲۲۶۲۰	۲۰۴۱۰	۲۷۴۲۰	۴۵۲۴۰	۱۶۳۹۸۹۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هرات په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی:

دا سیمه د هرات ښار په خپل ګاونډ کې ۹ بولوکونه په ځان کې رانغاړي او مستقیماً د هرات د والي له پلوه اداره کېږي.

هرات له ختیځه له دهانـهٔ دو آب څخه تر لویدیځه سنګ بست پورې غځېدلی دی. په سویل کې ئـې پاره ده او شمالي پوله ئـې هغه غرنۍ لړۍ ده چې د هرات دره له بادغیسه جلا کوي.

د هرات د درې لوړوالی له ۱۰۹۹۴ فیټه د سفید کوه (سپین غرهٔ - ژ) په دنګې څوکې کې او ۲۷۶۰ فیټه په هرې رودِ کې په سنګ بست کې دی. د هرات شمال کې د (کی تو) غرنۍ څوکه ده چې تر ۸۵۸۸ فیټو پورې لوړیږي. په خپله هرات ۳۰۲۷ فیټه لوړ دی خو پاره او تونیان بیا ۴۳۴۰ او ۳۴۱۸ فیټه لوړ دي. د هرات ددرې اوسط لوړوالی د مروې او سنګ بست تر منځ ۳۲۷۰ فیټه دی.

د هرات ۹ بولوکونه دا دي:

۱	انجیر یا انجیل	۴	گذره	۷	غوران پشتان
۲	الین جان	۵	سب کار	۸	کـَرَمبَـک
۳	اندوان و تیزان	۶	خیابان	۹	شاه فیلان

دابس چې په ۱۹۰۴ز کال کې له هراته لیدنه کړې اټکل کوي چې د هرات د ۹ بولوکونو وګړي به ۵۰۰۰۰ کورنۍ وي چې له دې ډلې څخه ۴۲۰۰۰ هراتي (پارسیوانې) کورنۍ، او ۸۰۰۰ پښتـنـي کورنۍ دي. د دغو نهو واړو بولوکونو د وګړو شمیر کیدای سي ۳۰۰۰۰۰ وي.

په ۱۹۰۴ز کال کې د والي مـحمد سرور خان په زیار او هڅو هرات له مخ په ودې سمسورتیا له سره مخامخ سوی دی؛ خو دلته د ورځپاڼو د نشتوالي او پر سفر باندې د قیوداتو د لګولو له کبله له باندنیو چارو څخه ژوره بې خبرې او عمیقه ناپوهي حاکمه ده. (۱۹۱۲ز)

هراتیان په فارسي خبرې کوي، خو دا ناشوني ده چې ووایو په دوی کې څومره ئـې شیعه ګان دي، ځکه دوی خپل مذهبي باورونه پټوي، دوی له ښاري وګړو ځکه توپیر لري چې هلته شیعه او سني دواړه سره ځرګند دي. په هرات کې موجوده ترانسپورتي څاروي دا دي:

۸۰۰۰	اوښان
۲۰۰۰	یابوګان
۲۰۰۰۰	خرهٔ

جګرن ونلیس چې په ۱۹۰۳ – ۱۹۰۴ کلونو کې ئـې ددې ولایت له ډیریو برخو څخه لیدنه کړې وایي: " ما له خپلو څو تنو تنو اوښبنو څخه د اوښانو د څړ ځایونو په هکله په دې هیلې پوښتنې ګړویرنې وکړې چې د هرات په هغو برخو کې چې ما ورڅخه لیدنه کړې ده چیرته د اوښانو ښـهٔ څړځایونه دي. دوی ټولو وویل چې دا سیمه په ټوله کې هغه سیمه ده چې داسې ښه بل چیرې ئـې بله سیمه د اوښانو د څړځایونو لپاره نـهٔ ده لیدلې او دا چې دلته خوراک توکي په کافي اندازې په ځانګړې توګه د بې شمیرو اوښانو لپاره سته. په اوسمهال (۱۹۰۴ز کال د مارچ شپږمه) کې واښـهٔ تقریباً یو فوت لوړ دي او تنکي واښـهٔ او اغزن بوټي په ځانګړې توګه اغزن بوټي پریمانه پووندې جوړوي. ان د مني په وروستیو او ژمي کې کله چې بوټي وچ وي بیا هم په کافي اندازې پووندې سته. دوی غوښتل ما وپوهوي چې دلته د کال هر وخت کې پووندې ښې او پریمانه دي."

جګرن ونلیس (۱۹۰۴) د هرات ناخالص تولید په لاندې ډول ښیي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

غنم	۶۱۰۰۰	خرواره
وربشي	۴۱۰۰۰	خرواره
وريجي	۲۰۰۰۰	خرواره
دال	۲۰۰۰۰	خرواره
ټولټال	۱۴۲۰۰۰	خرواره

دا ، د ۵/۱ په معمول او دوديز حساب، موږته کلنی مازاد (په هندي مونډو) په لاندې ډول راکوي:

غنم	۱۲۵۰۰۰
وربشي	۸۲۰۰۰
وريجي	۴۰۰۰۰
دال	۴۰۰۰۰

روسانو په ۱۹۱۰ز کال کې د هرات په ولسوالۍ کې د غنمو ۳۰۸۰۰۰ هندي مونډو مازاد اټکل کړی وو. همدا شان ددې سيمې توليداتو کې ډيروالی د نورو سرچينو له پلوه تائيد سوی دی. (ام. او. ۳. ۱۹۱۲)

بيت په ۱۸۹۳ز کال کې وايي چې د (هرات د) ښار په مرکز کې ستر زيرمتونونه جوړ سوي دي چې ۲۰۰۰۰ مونډه غلات تل په زيرمتونونو کې ئې ساتل کېږي چې هر کال نيمايي له سره تازه کېږي.

دا زيرمتونونه (د مدني اداري[1]) تر اداري لاندې دي، هر کله چې د غلاتو د مالياتو د راټولو اړتيا پيښه سي نو سپاهيان استخدام کېږي. (ام. او. ۳. ۱۹۱۲)

عسکري قشله [2]

د هرات د ولسوالۍ سرتيري په لاندې ترکيب دي:

د سپارۀ ځواک ۴ غنډۀ ، هر غنډ ۴۰۰ تنه

۲ کنډکه د نيزه والو او د کانونو کيندونکي هر کنډک ۲۰۰ تنه

په پليو سرتيرو ۹ ليوا ګاني هره ليوا ۶۰۰ تنه

توپچيان ۱۴۴۰ تنه له ۱۰۵ ؟ توپونو سره چې بيلابيل ډولونه توپونه دي چې ددوی له منځه نيمايي ئې نظامي ارزښت نۀ لري.

د خوانينو سپارۀ ۳۰۰ تنه

خاصه داران ۸۰۰ تنه

سرتيري په لاندې ډول ويشل سوي دي:

په هرات کې ۲ د سپرو غنډونو مراکز په ليږل سويو مفرزو کې دي

د توپخانې ځواک له ۳ څخه لږ غرني توپونه

د شلګرو يا نيزه والو او کان کيندونکو ۲ کنډکونه

د پلي ځواک ۹ ليوا ګاني

د ليوا او د يوې قطعې مراکز په ليږل سويو مفرزو کې

---

[1] - Civil Department : دا اصطلاح ما ژباړونکي ته د افغانستان په اداري چارو کې پردی ده. دا يوه مختلطه اداره ده چې له قضايي، مدني او پوځي ادارو څخه جوړه اداره ده. زما په باور دا بايد ملکي اداره وژباړل سي.

[2] - زه ژباړونکی بايد په څرګنده اعتراف وکړم چې په عسکري اصطلاحاتو کې اصلاً بلد نـۀ يم او نـۀ را سره داسې ډاډمن قاموس يا لارښود کتاب سته چې خپله دا ستونزه ورباندې حل کړم. په پښتو قاموسونو کې هم د غونډ، غنډ، ليوا، کنډک، قطعې، ټولې، قشلې، ګارنيزيون، فوقي تعاريف په بيلابيلو ډولونو سوي دي. له دې کبله لوستونکي دې زما دا نقيصه د پيرزويني له مخې د اغماض په سترګو ووينې. مننه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د خوانینو ۲۰۰۰ سپارۀ

۱۲۵ خاصه داران

له بالامرغابه تر انار دري پوري د سرحدي پوستو مفرزي

د سپرو ۲ غنډونه (له مرکزونه)

۳ غرني توپونه

د پلیو سرتیرو ۵ لیوا ګاني

د خوانیونو سپارۀ ۱۰۰۰ تنه

۶۷۵ خاصه داران

سرتیري هیڅ ډول د توپک او نښي ویشتني او ان د هر ډول پوځي روزني له ډولونو څخه یو ډول روزنه نۀ لري او نۀ ئي روزنه لیدلي ده. صاحب منصبان ئي هم هیڅ ډول پوځي تحصیلات نۀ لري.

هرات هیڅ ډول زراد خانه یا د اسلحي د تولید فابریکه نۀ لري، دلته یوازي د توپکونو د ترمیماتو لپاره ورکشاپونه سته او هم د تبرونو، دیګونو، کراچیو، عرابو د سراجي یا زین سازي هټۍ سته.

په هرات کي د تور پودر (باروتو) د تولید دوه فابریکي سته چي د عالي تور پودر کلنی تولید ئي تر لسو ټنو پوري رسیږي.

په ۱۹۱۱ز کال کي د هرات قشله لا تر دي دمه د وسلو له اړخه او د مهماتو د معیني اندازي لپاره په کابل پوري تړلي وه.

په ۱۹۱۱ز کال کي په هرات کي لاندیني وسلي او مهمات زیرمه ول:

تـه پُر توپک		۱۸۵	Rifles breech -loading				
سرپُر		۱۴۱۸۲	Rifles muzzle -loading				
تومانچي		۳۳۵					
توري		۹۳۲					
برچه یا سرنیز		۲۸۴۲					
سانګي یا شلګري		۳۸					
کیږدی		۵۴۹					
د آنس نعل		۸۱۷					
د سنګر جوړولو او نقب وهلو وسایل		۱۶۳۱					
د توپ ګولی		۱۰۰	پونده	استوانه یي	۲۴۰۸	ګردي	۲۲۸۶۴
د توپ ګولی		۶۶			۱۸۲۶۵		۱۰۳۶۰
د توپ ګولی		۳۶			۱۱۷۹		۱۰۰۷
د توپ ګولی		۲۴			۲۵۶۹		
د توپ ګولی		۱۸			۷۲۴۵		
د توپ ګولی		۱۴			۲۸۴		
د توپ ګولی		۱۲			۹۷۳۳		
د توپ ګولی		۹			۱۰۰۰۰		۲۶۲۲
د توپ ګولی		۶			۱۵۶۲۸		۷۳۶
د توپ ګولی		۴			۶۳۰۰		۴۵۵۰
د توپ ګولی		۳			۱۵۹۲۰		
د توپ ګولی	کروپ توپ	Krupp gun			۶۰۷۸		
د توپخاني د خواک لپاره پودر (باروت –ژ)					۱۷۵۵۱ پونده		

د تـه پُر او سَرپُر د توپکو لپاره کارتوس ۴۵۴۹۸۱۳ ډزه.

د توپکو د کارتوسو لپاره باروت: ۱۴۰۴۰۸ پونده (ام. او. ۳ . ۱۹۱۲)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په ۱۹۱۲زکال هرات ۰۰۰، ۱۳۰۰ کابلی مالیات ورکړل. (د کابل د خاطراتو دفتر: ۱۴ – ۷ – ۱۲)

نوربیا

هرات

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ